**مطبوعاتي اعلامیه**

**د (ډیموکراتیک واده) ناخوالې**




**(ژباړه)**

جورج بوش دعوه کوله چې د عراق ولسمشر صدام حسین د ټولوژنې وسلې لري او دا نړیوالې سولې ته یو لوی گواښ دی. نوموړي پر همدې پلمه په ۲۰۰۳ز کال کې عراق ویجاړ او ښکېلاک یې کړ. دوی په داسې حال کې پر عراق برید وکړ چې نړیوالو څارونکو او همدارنگه د ملگرو ملتونو گڼو راپورونه دا خبره رد کړله چې گواکې عراق دې داسې وسلې ولري، مگر امریکا دا کار د خپل لېونتوب پر بنسټ چې غوښتل یې پر ټوله نړۍ کنټرول ولري او خپله د پدوانۍ پالیسۍ په نړۍ پلې کړي او خلک او ملتونه ښکېلاک کړي؛ یادو راپورنو ته یې هېڅ پاملرنه ونه کړله او حتا د دې پروا یې هم ونه کړله چې په دې سره به امریکا بدنامه شي او له دې یې هم وېره ونه کړله چې د دوی دا کړنه په اصل کې یو جرم دی. مگر کله چې امریکا ونه توانېده چې خپله دعوه ثابته کړي او په عراق کې د ټولوژنې وسلې پیدا کړي، بوش اعلان وکړ چې (نړۍ د صدام په لمنځه تگ سره نوره هم په امن شوله) او امریکا به عراق د ډیموکراسۍ او سوکالۍ یوه خورا غوره بېلگه وگرځوي. مگر په اصل کې دا د هر ښکېلاکگر د ښکېلاک طبعیت دی. نوموړی سخت ناکام شو چې عراق ته سوکالي او ټیکاو راولي او د عراق ولس چې د امریکا د ټولوژنو وسلو او بمونو څخه ټپي ټپي وو، درملنه وکړي او یا هم د عراق ښارونه او کلي چې د امریکا د لویو ویجاړوونکو توغندیو او بمونو له لاسه ویجاړ شوي او ملگرو یې لوټلي وو، ورغوي.

د دې لپاره چې امریکا په عراق کې خپل جنایتونه پټ کړي، نو د خپل استازي پال برېمر پر مټ یې یو گډوډ نوی اساسي قانون جوړ کړ او ادعا یې وکړه چې دا قانون به عراق ډیموکراسۍ خواته بوزي. امریکا یو شمېر داسې عراقي سیاستوال په څوکیو کېنول چې خورا کمزوري وو او دوی پر خپل منځ کې د امریکا د مزدورۍ او ځانونه ژمن ښوودلو کې سیالي کوله او امریکا هم د دوی د نوکرۍ او ژمنتیا په بدل کې یوه گوله ډوډۍ ورکوله. مگر د عراق مظلوم اولس په هغه اور کې چې امریکا بل کړی هره ورځ سوځېږي او د ژوند کولو لومړنۍ اړتیاوې هم نه شي پوره کولی، په داسې حال کې چې عراق یو شتمن هېواد دی؛ هم پاکې اوبه لري، هم د کرنې پراخه ځمکې، هم پریمانه گاز او تېل. له دې ټولو سره سره؛ په عراق باندې پرلپسې ناکامو دولتونو حاکمیت وکړ او هر څه یې په دروغو پرمخ وړل؛ خلکو په وروستیو پارلماني ټولټاکنو کې له گډون څخه مخ واړاوه (مستند راپورنه

وايي چې په ټول عراق کې يوازې ۱۹ سلنو خلکو په دې ټاکنو کې برخه اخيستې ده) ښارونه او ښارونو ته څېرمې ټولې سيمې له غربت او د سياسي چارواکو له فساده نور له قهره د انفجار په حالت کې دي.

د امريکا تر ډيموکراتيک واده پنځلس کاله وروسته (چې ايراني رژيم په دې واده کې رول درلود) تش په نامه ډيموکراسي د خلکو په احمق کولو کې ناکامه شوه. خلک د عراقي سياستوالو پر فساد چې عراق ته له امريکايي ټانکونو سره يوځای د ننه شول، پوه شول او عراقي ولس په دې پوه شو چې له دوی سره د ډيموکراسۍ لوبه کېږي. اوس خلک نه اوبه لري، نه برېښنا لري او نه دندې پيدا کېږي او سياسي ډلې يو د بل سره لاس او ګرېوان شوې دې او نه شي کولی چې وروسته له څلورو مياشتو يو حکومت تشکيل کړي.

**موږ خپل عراقي ولس ته داسې وايو:**

تاسو په عراق کې د ايران په مرسته او ګډون امريکايي خوسا او فاسد رژيم تجربه کړ او تاسو د تش په نامه ډيموکراسۍ جهنم وليده او د سياستوالو چل او فريب مو هم وليده. موږ تاسو ته بلنه درکوو چې راځئ د خپل رب د قانون تر حاکميت لاندې ژوند وکړئ، له امريکا سره ټولې اړيکې پرې کړئ او د دوی ټول پوځونه له عراق وشړئ او عراق د امريکايانو او د دوی د مزدورانو له ناولو څېرو پاک کړئ. تاسو عزت او لوړ مقام د الله په پيروی کې تر لاسه کولی شئ، الله تاسو ته د خپل دين پر مټ عزت درکوي او تاسو يې د اسلام له امله په ټول بشر کې بهترين امت ګرځولي ياست.

**﴿أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَوَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾**
**[المايده: ۵۰]**

**ژباړه:** *ايا دوی د جاهليت حاکميت منې په داسې حال کې چې هغه قوم چې ايمان لري، څوک ورته تر الله ښه حاکميت کوونکی دی.*

**ډاکټر عثمان بخاش**
**د حزب تحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر رييس**
**۱۴۳۹ د ذوالحجې ۳۰**
**۲۰۱۸ د سپټمبر ۱۰**
**د صدور ګڼه: AH / 033 1439**